۵۴۶-- يوه ښځه بې له مېړه داسې ده، لکه
لوښی بې برغولي.

۵۴۷-- له دښمن چې ښځهکوې ستونځمنه
ده، خو ساتنه يې اسانه ده.

۵۴۸-- مات لاس کړی شي، خو مات زړه نه.

۵۴۹-- کور بار منزل ته نه رسيږي.

۵۵۰-- مور بچي ته شيدې نهورکوي، تر
څو پورې ونه ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۵۱-- د سروزرو تورهڅوک په ګبڼه نهچوخوي

۵۵۲-- یوه د خورما ونه، چې پهسیوري لویه

شي، مېوې یې نه پښیږي.

۵۵۳-- څپلۍ بوټ دۍ او پکول پګړۍ.

۵۵۴-- یوه خرابه ښځه داسې ده لکه تنګ بوټان.

۵۵۵-- بلاربېده کړی شې پټ کړې، خو زوکړه نه.

۵۵۶-- خر په راتلونکې فکر نه کوي.

۵۵۷ -- یو خر دوهملګري لري: د هغه دواړه

وروستۍ پښې.

۵۵۸-- له سوچه سروزرو ټوپک نه شي زخمی کولی.

۵۵۹-- یو کب له غآښونو سره همداسې

مزهلري، لکه کب بې.

۵۶۰-- یو دریاب له څاڅکو څاڅکو چوړیږي.

۵۶۱-- یو پردی ستا هیواد کې داسې دی،

لکه په ګل باندې اغزی.

۵۶۲-- ګیدړ د خپل پوست له امله په

ستونځو کې دی.

۵۶۳ــــښه کال د هغه له پسرلي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاکل کیږي.

۵۶۴-- سل گوزاره د زرگر یو د اهنگر

۵۶۵-- له بې عقله دوست څخه هوښیار

دښمن ښه دی.

۵۶۶-- ساده ده، چې د هوښیار دښمن سره

په جنگ کې وي، و هغې ته چې د بې عقله

ملگرو سره په روغه کې.

۵۶۷-- دروغژن هېرونکی دی.

۵۶۸-- یو سړی بې له ښځې نیم سړی دی.

۵۶۹-- یو سړی بې له ښځې داسې دی لکه

یو خر بې باره.

۵۷۰-- یو سړی بې ښځې داسې دی لکه یوه

ښخه بې ماشوم.

۵۷۱-- یو انسان بې روځنې داسې دی

لکه یوه ونه بې مېو

۵۷۲-- یو خوزندهخر دی و نا خوزنده انسان ته.

۵۷۳-- نوی نوکر هوسۍ په منډه نیسي.

۵۷۴-- یو پروفیسر داسې دی لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکيټخرحوونکی، چې يواځې چغې وهلی شي.

۵۷۵-- يو چټک خر و يوه ورو آس ته ښه دی.

۵۷۶-- يو شکون خپل بچې ته وايې، وه

دما بخملي بچيه،،.

۵۷۷-- يو پلار کړی شي لس الاده وساتي، خو

لس اولاده يو پلار نه شي ساتلی.

۵۷۸-- يوه ډانګه هيڅ کله اصيل سړی نه په ګوته کوي.

۵۷۹-- يو بې تربيه ځوي نه زدکړه کوي نه

ربيه اخلي، لکه چې د خرماونه په سيوري

کې پخه ميوه.

۵۸۰-- يو مرغه هغومره الوزي، لکه

وزرونه يې وړی شي.

۵۸۱-- يو په ريښنينې ملګری هغه دی، چې

په اړتيا کې دې لاس نيسي.

۵۸۲-- هغه غوږونه وساتل، خو سر يې پرې ورکړ.

۵۸۳-- ازمايلی بيا نه ازمويل کيږي.

۵۸۴-- لومړی تزبيه يازدکړه بياواده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۸۵-- لومړی حماقت بیا هوښیارتیا.

۵۸۶-- لومړی خوراک بیاخبرې.

۵۸۷-- هغه خپل غوره والی د پیل د وزن
سره پرتله کوي.

۵۸۸-- یوه لار د زړه ځخه وزړه ته شته.

۵۸۹-- یوه لار د غره څوکې ته شته یا
۵۹۰-- که عر لوړ دی په سر یې لار ده.

۵۹۱-- که حېرته نیتوي، یوه لار هم شته.\

# نیپال:

۵۹۲ --یوه خوړنده خوله په برېتو نه درېږي.
یا شخوند په برېتو نه ودرېږي.

۵۹۳-- هېڅ ونه شته، چې د باد زور یې
نه وي حس کړی.

۵۹۴-- ارزانه بې علته نه وي او قیمته بې حکمته.
۵۹۵-- کېدی شي د هندوانې پهڅېر بوی
وکړي، خو تا به ناروغه کړي.

۵۹۶-- تمبلې یا لټې ښځې چاغې پیشو ګانې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سړی له دې داسې پوهیږي، چې له خوراک

وروسته لوښي نه مینځي ، په پیښو ګانو یې پاک څټي.)

۵۹۷-- لټي دټولو غریبیو مور ده.

۵۹۸-- وور ملګرتوب نه پېژني.

۵۹۹-- کبانو په خبرې کولی، که خوله یې

له اوبو ډکه نه وی.

۶۰۰-- ښځې د بچیانو لپاره دي او هلکان د لوبو لپاره.

۶۰۱ -- پردی څوي څوي نه دی.

۶۰۲-- پردی جنګ نیمه خوښي ده.

۶۰۳--پردی اور له واورو یخ دی.

۶۰۴-- په خوب کې سړی ملګري نه پیداکوي.

۶۰۵-- پنځه واړه ګوتې په خوله کې نه ځایږي.

۶۰۶-- د غلو لپاره په غرو کې ځای نه شته.

۶۰۶-- هغه څوک چې رېښتیا وایي یو آس

ورکړی، هغه بایدو تښتي.

۶۰۷-- پښې هلته ځي، چې زړه ځي.

۶۰۸-- صبر تریخ دی، خو میوه یې خوږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۰۹-- د خدای(ج) سره څوک جنګ نه شي کړی.

۶۱۰-- مخ، ویښتان او مېره وفادار نه دي.

۶۱۱-- خدای(ج) ته ریښتیاګران دي.

۶۱۲-- یو خر مه ساته، چې ستا نه وي.

۶۱۳-- معامله وکړه او مغرور فکر مه کوه
یامه اوسه. یا ( څوک چې بل زوروي، پخپله
ارامتیانه لري. څوک چې بل ته کوهي کني پخپله
په کې لویږي.)

۶۱۴-- ترور کار سرته نه رسیږي.

۶۱۵-- تاریخ پسې وروسته مه تېږه. ( ورته
د الماني: پرېږده، چې خلک خبرې کوي او
سپي غپیږي.) یا بل د پښت: سپي غپیږي،
کاروان تېریږي.)

۶۱۶-- ته راباندې ګرانه یې خو دومره نه
لکه خپل ځان.

۶۱۷-- زه له درې سرهخبرې کوم، خو دېوال
یې اورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۱۸-- په تياره کې خپل سيوری نه ګوري.

۶۱۹-- پردی کټ د نيمو شپو دی؟

۶۲۰-- د کولال په کور کې روغ لوښی نه ګوري.

۶۲۱-- د ړانده لپاره په جوهرو په دوکان کې

روبين  او شکې يو شی دي.

۶۲۲--په خپله کوڅه کې سپي ځمريان دي.

۶۲۳ -- پردی کټ د نيومو شپو دی

۶۲۴--څوک چې هغه څه خوري ياڅښي،

چې بل ته يې سوغات کړي وي، نو

لور يې پيداکيږي.

۶۲۵ -- هرچا ته خپل وطن کشمير دی.

۶۲۶ --څومره چې جګ خاته دي هغومره

په زوړي کياوته دي

۶۲۷ -- د ځوي ښېګڼې او بدې  د پلار ګڼي.

۶۲۸--اوښانو به کار کړی وی، که لاسونه

يې لرلی.

۶۲۹-- پيشو د دې لپاره موږک نه ښکاروي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خدای ته ګرانه شي.

۶۳۰-- ګلاب بې له اغزو نه شته.

۶۳۱-- جنګ په سږه سینه ګټل کیږي، نه مخامخ جنګ سره

۶۳۲-- خندا د ژوند مالګه ده. او څوک چې ښه مالګین وي، ځوان پاتې کیږي.

۶۳۳-- باد ته تکیه مه وهه او له اوبو څه ه رااخله.

۶۳۴-- زدکړه ځنې ملایان کوي او ځنې نور شیطانان.

۶۳۵-- مینه ښکلا نه غواړي.

۶۳۶-- ښه دی په پیل کې روغه وکړی، د دې په ځای چې د روغې اخر وړاندیز صبر وکړی.

۶۳۷-- ښه دی چې له سلو بدو پلورونو پیدا وي، و له یوې بدې مور څخه.

۶۳۸-- دوه ممیز ښهدي و یوې خورما ته.

۶۳۹-- د مینې ماجرا دې باغوان له باغه دباندې ولټوي،

۶۴۰-- د ځان لپاره نوم وګټه، بیا کړی شې په ځمکه هم کښینې.

۶۴۱-- له وښو غر مه جوړوه.

۶۴۲-- ستا له دښمنانو سره په سړه سینه او ستا له مل\رو سره په بخښنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۴۳-- د پلار له مرګ سره مور پردۍ کيږي.
۶۴۴-- د ځمري برېتونو سره لوبې کول قهرماني نه ده.
۶۴۵-- د يوې ځېږې سره سل مخونه خوږيږي.
۶۴۶-- سبا ستا نارينوالی ستا له کړنو پېژندل کيږي، نن له دې امله احمقانه غورې ترمبې او غالمغال مه کوه.
۶۴۷-- مور او لور په جنګ وو او دې احمق فکر وکړ چې دا جدي دی.
۶۴۸-- د جګړ پسې باران راځي.
۶۴۹--د هغ د ښځې پهځنګ کې هر يو نارينه دی.
۶۵۰-- ټول انسانان همغه عمر نه لري.
۶۵۱-- هيڅ څوک هم پوره نه دی.
۶۵۲-- هېڅ څوک نه وايي، چې شملې يا شړومبې يې تر وې دي.
۶۵۳-- اړتيا مخترع ده.
۶۵۴-- له دې د مخه چې د اوبو ژوروالی درته څرګند نه وي، ځپلۍ مه باسه.
۶۵۵-- بې له فشار بخت نه شته.
۶۵۶-- بې ستړې يا بنسټ چوکۍ نه شته.
۶۵۷-- بې له خپلوانو ژوند کېدی، خو بې له ملګرو نه.
۶۵۸-- ټيک هلته وغړيږه، چې چا وپوښتلې.
۶۵۹-- انسانان، چې چا ته په درنښت نه وي قايل، خطرناک دي.\
۶۶۰-- پاکې له غربت سره څه کار نه لري.
۶۶۱ ۶۶۲-- شهرت د خدای(ج) له خوا څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۶۳-- قسمت د سیالی توان نه لري.
۶۶۴--بیده نه شي کړی نور بیده ویښ کړي.
۶۶۵-- له خرابې وسپنې ښه توره نه جوړیږي.
۶۶۶-- په بل پسې خبرې کول، په ځان پسې
خبرې کول دي.
۶۶۷-- مفتخواره زیامنووکي دي،
۶۶۸—خپل مال وساته، ګاونډي باندې د غله
ګومان مه کوه. یا
( خپل مال وساته، ګاونډی غم مه نیسه)
۶۶۹-- ټوره چرګه سپینې هګۍ اچوي.
۶۷۰-- تور پوستکی په مینځلو نه سپینیږي.
۶۷۱-- پټه خوله پاتېدل، د احمقانو لپاره
ځواب دی.
۶۷۲-- غل په غره کې نه ځاییږي.
۶۷۳-- غل مه اوسه لهپاچا هم مه ډارېږه.
۶۷۴-- که که یوه ډوډې او پیاز هم، نو په
ورین تندي.
۶۷۵-- مفت شراب قاضي هم څښي.
۶۷۶-- تر هغې پورې,چې په نړی کې
احمقان وي، هېڅ څوک بې څه نه شي کېدی.
۶۷۷-- له ځانګو تر ګوره زده کړه.
۶۷۸—خوږه خوله، زخمیکېدونکی فکر.
۶۷۹-- د ورځې ملائکه، د شپې غل.
۶۸۰-- مړي نه غږیږي.
۶۸۱-- وچه خاوره پهویوال نه تپل کیږي.
۶۸۲-- څاڅکی دریاب کیږي.
۶۸۳-- په اوربدلي غږېږه، خو پهلیدلې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۸۴-- په تېر وخت سړی نه غږېږي.

۶۸۵-- چې پلار کور کې نه وي، مور ګرځي.

۶۸۶-- تېر په هېر، خو راتلونکې ته پام وکړه.

۶۸۷-- کلی پرېږده، خو مخه یې ونیسه چې کلی دې پرېږدي.

۶۸۸-- خپلوان دې ژوړوي، ملګري دې خنوي.

۶۸۹-- له تش ټوپک دوه کسان ډارېږي

۶۹۰ــــله خپلوانو ځان ساتلی شي، خو له ګاونډیانو نه.

۶۹۱-- قصابان چې سره غږېږي، غوا مردارېږي.

۶۹۲ --رېښتیا ترخه دي، خو میوه یې خوږه.

۶۹۳-- ولې بېړه کړی، که بخت درته کور ته راشي؟ او بیا بیاهلته، که یو چا ته نه راځی؟

۶۹۳--  څه چې په انسانیت راځي، هغه په انسان راځي.

۶۹۴-- ځواني چې څه په ندارهکې ګوري، زاړه یې په ارمه خښته کې ګوري.

۶۹۵--هغه چې زړه مې غواړي، نه دي پېښ شوي.

۶۹۶-- پښېماني څه ګټه لري، چې په پیل کې ناسم پلونه واخستل شي؟

۶۹۷-- اوبه په توره نه بېلیږي.

۶۹۸-- یو خر له سبا څه پوهیږي.

۶۹۹-- که باغ خپل باغوان لري، نو ګیدړه خپل خدای.

۷۰۰-- که بنسټخښته کږه کېښولشوې وي، نو دیوال سیده ولاړ نه شي کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۰۱-- که خاوند په هډوکي وتوشيږي، نو خپل
سپي ته به څهورکړي؟
۷۰۲-- که سړی فکري کډوډ وي، نو خدای
مهربانه دی.
۷۰۳-- که ميږی له لويو اوبو غږيږي، نو
موخه يې د لوبو ډنډوکی دی.
۷۰۴-- که چرګه چاغ خوراک وکړي، نو
نورې هګی نه اچوي.
۷۰۵ -- که ماهي له اوبو راونيسې، نو تل تازهدی.
۷۰۶-- که په سر کې ژوند وي، نو خولې ډېرې دي. يا
۷۰۷-- چې سر وي، خولې خدای ورکوي
۷۰۸-- که د مشورې څوک نه لرې، نو
د خپل عقل سره مشوره وکړه.
۷۰۹-- که مار وژنې، نو بچې يې هم مړه کړه.
۷۱۰-- څوک چې پيلان اخلي، بايد د
پيلانو کور ولري.
۷۱۱-- څوک چې حيوان مسئوليت ته راکاږي،
پخپله حيوان دی.
۷۱۲-- څوک چې پردۍ ښځې خوښوي، د
درنښت ارزښت نه لري.
۷۱۳-- څوک چې په تنګ راغی، جنګ کوي.
۷۱۴-- چې څوک دې بدرنګه وي،هغه ته
خدای شنې سترګې ورکوي.
۷۱۵-- څوک چې سره زر لري، سوال نه کوي،
۷۱۶-- څوک چې ځغلي، لويږې هم.
۷۱۷-- څوک چې اوښان ساتي لوړې دروازې ږدي.
۷۱۸-- څوک چې بايد له خوږې سره مړ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زهرو سره نه مري.
۷۱۹-- چې نه دې وي له موره ورته مه
وايه چې وروره
۷۲۰-- څوک چې پخپله ځان خان بولي،
خان نه دی.
۷۲۱-- څوک چې لټوي هغه پیدا کوي.
۷۲۲-- څوک چې په نیمه شپه پاڅي یا
غل دی یا مین.
۷۲۳-- څوک چې د ملګرتوب خوبونه
ګوري، هغه ځانله پاتې کیږي
۷۲۴-- لکه څنګه مخ همهغسې څپیړه.
۷۲۵-- که یو څوي غواړې، نوباید څلور
ودونه وکړې.
۷۲۶-- چېرته چې په لار سم تلل(دېسپلین) وي،
هلته ټولنیز نظم شته.
۷۲۷-- چېرته چې لوږی وي ، هلتهڅوند دی.
۷۲۸-- خر په ډېرو وهلو نه اس کیږي
۷۲۹-- یوځای یواځې هغه مرغان الوزي، یو
ډول بڼکې لري.
۷۳۰-- دوه هندوانې په یوه لاس کې نه وړل کیږي.
۷۳۱-- خبره چې له خولې ووځي، نړۍ ته ځي.

**د پښتنو هوښیارتیا**

۷۳۲-- ناخوښ څوي د پلار په مخ څخه ده، که پربېږدي
یې، نو بد بربښي، که غوڅوی یې، درد کوي.
۷۳۳-- کتونکی ستر بریالی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۳۴-- لومړۍ پیالی چای څه نه دی، دویمه
پیاله بس ده او دریمه بېځایه ده.
۷۳۵-- لویان غوږونه لري، خو سترګې نه لري.
۷۳۶ــــیوه ښځه بې زړوکي داسې ده لکه
بلمنګې مړۍ.
۷۳۷-- یو ځل خندا ښه ده، خو تل خندېدل
لکه د خره اونګار دی.
۷۳۸-- یو کوڼ دوه واره خاندي. کله چې نور په
خنداوګوري او بیا چې دی پوه شي.
۷۳۹ -- لومړی و ځان ته مل وګوره بیا لار.
۷۴۰-- په هغه کوڅه مه ځه، چې نه دې پلار او
نه دې مور ورباندې تللې وي.
۷۴۱-- باچایان د میږیو په ډېران ببدیږي.
۷۴۲-- سړي غرونه دي، او ښځې اړمونه ، چې
خوروي يې.
۷۴۳ــــکه ګانه هرڅومره درنه هم شي، هغه د
ښځو لپاره بار نه دی، او همداسې سړیو
ته ټوپک.
۷۴۴-- که ورکوې ګل به شي او که خورې غول.
۷۴۵-- که هرڅومره هوښیار هم شې، سره
له دې هم له ناپوه وپوښته
۷۴۶-- که نړۍ ټوله حلوا شي، نو د
غریب سړي به یوه کاشوغه وي.
۷۴۷-- یار د یار لپاره خوري د غوایی غوښې.
۷۴۸-- له چآ دې ګټه کړې؟ د ما له ورور
څخه – دا ګټه نه ده.
۷۴۹-- چې زړه مین شي، ښکلا نه غواړي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب ور شي بالښت( سروېږدی) نه غواړي.
۷۵۰-- چې میره راشي، نو پلار پلندر شي،
۷۵۱-- که اړیین شي، نو سړی پخپله
ځان ته خر وايي.
( که څوک ځوي یا لور ته په قهر شي،
وورته وايي: د خره ځويه(لورې))
۷۵۲-- که د زړه او ژبې وینا سره ویلي شي، نو
مینه منځ ته راځي.
۷۵۳-- هر شی، چې د مار سر لري په تیګو

وولې، که سمسیاره هم وي.

# یو څو د جنګ متلونه: له الماني.

۷۵۴--انسانیت باید جنګ پای ته ورسوي، که نه

جنګ انسانیت پای ته رسوي.

۷۵۵-- په ناحقه روغه بیا هم ښه ده، و

په حق جنګ ته.

۷۵۶-- هرڅومره چې مور توانمند یو، تر هغې

پورې جنګ له احتماله لرې دی.

۷۵۷-- یواځې مړو د جنګ پای لیدلې.

۷۵۸-- څوک چې جنګ ته پوره تیاری لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خورا ښه روغه ساتلی شي.

۷۵۹-- دا فکر ته راوله  یا مخ ته ولره، چې
جنګ دی او ځوک نه ورځي.

۷۶۰-- هر توپ، چې جوړیږي، هره جنګي
کېشتی، چې بندر پرېږدي، هر وېشتل شوی
راکټ، په پای کې دا ورځخه پوهیږو، چې له
هغو غلا ده، کوم چې وږې دي او خوراک ته
څه لاس ته نه ورځي، له هغو چې لړځیږي او
کالي نه لري.

ډ. ډوایډ. آیزنهاور

۷۶۱-- یوه  نړۍ د ټوپکو لاندې نه یواځې پیسې
الوزوي، دا ستا دخولو کار هم الوزوي، ستا د
پوهانو اروا او ستا د بچیو هیلې
ډ. دوایډ. آیزنهاور

۷۶۲--  لویه کارتاګو ( عربي : کاطرج د تونیس
ښنګ کې یو تاریخي وران شوی ځای دی)  درې
جنګونه یې وکړل. د لومړي جنګ پسې لا توانمنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، د دویم جنګ پسې لا اوسېدوړ وه، د دریم جنګ
پسې بیا نه میندل کېده.

برتولد برښت

۷۶۳-- جنګ اوږد مېټ لري، له هغې وروسته
چې پای ومومي، نور هم اوږد شي، چې خپل
قربانیان هم له ځان سره یوسي.

مارتین کېسل

۷۶۴-- هېڅ وخت دومره دروغ نه ویل کیږي، لکه
له ټاکنو څخه د مخه، د جنګ په ترڅ کې او له
ښکار وروسته.

اوتو فون بیسمارک

۷۶۵-- ښه دی، چې یو بل ته کنځا وکړی، و دې
ته چې یو بل په دزو ولی.

چرچل

۷۶۶-- سیاست بې له وینو تویولو جنګ دی،
جنګ له وینو تویولو سره جنګ دی.

ماو تسېتونګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۶۷-- یو لیکوال دومره چټک نه شي لیکلی،

لکه دولتونه چې جنګ جوړوي:

ځکه چې لیکل فکر غواړي.

برتولد برښت.

۷۶۸-- د کم وخت لپاره په اروپاکې هر ځای

روغه، او د نړۍ په نورو ځایونوهېڅ

کله جنګ پای نه مومي.

کارل فون کلوزیوېڅ

۷۶۹-- المان ماته وخوړه، موږ ټولو وبایلله.

چارلز دوګول.

۷۷۰-- جنګ په پراخ پیمانه نور جنګ نه دی،

بلکه د تخنیک له لارې یوه تباهي ده.

نارل جسپرز

۷۷۱-- دروغ کړی شي جنګ خوزنده کړي،

خوربېښتیا یې په څټ کړی شي د لښکر مخه

ونیسي.

اوتو فون بیسمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۷۲-- زه باوري نه یم، چې دریم جنګ به له کومې سلاح سره و مخ ته یوړل کیږي، خو په څلورم جنګ کې به له ډانګو او تیګو سره جنګ کوي.

البرت آینستاین

۷۷۳-- ماته یوه کوټګۍ خالي کړئ او ما په کې بندي کړئ. د زړه له کومې د بند ډوډۍ، و د ویتنام په جنګ کې مړ ته.

محمد علي ( کلې)

۷۷۴-- جنګ یوه لوبه ده، چې سړی ورسره مسکی کیږي. که سړی نه شي خندلی، نو سړی دې داړې چینګې کړي. که سړی داړې نه شي چینګولی، نو یو وخت لپاره دې ځان پټ کړي.

وینسټن چرچل

۷۷۵-- دا د ټوپک ګولۍ او نه جنرالان تاریخ جوړوي، خو خلک.

نېلسون منډېلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۷۶-- سړی ښایي هېر کړي، چې د روغې چیلم
چېرته خښ دی، خو هېڅ کله نه هېروي، چې
تبرګی چېرته دی.

مارک تواین

۷۷۷-- زه خوښه یم، چې موږ بمبارد شو.
موږ اوس کړی شو، چې په ایسټ اېند
( د لندن یوه برخه ده) کې د خلکو
سترګو ته وګورو.

ملکه الیزابت

۷۷۸-- هېڅ هوښیار به فکر ونه کړي، چې
رنګ په رنګ او تېل په تیلو و مینځي.
یواځې وینه باید تل په وینه پاکه شي.

برتا فون سوتنر

۷۷۹-- زه یې په دوه دلیله مخالف وم.لومړی
دا چې جاپانیانو غوښتل تسلیم شي، او دا اړیین
نه وو، چې دوی له داسې خطرناکو شیانو سره
مخامخ کړم. او دویم زه دما هغو فکرونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینه لرم، چې دموږ هیواد دې لومړی وي، چې
داسې یوه وسله دې وکاروي.

دوایټ ډي. آیزنهاور.

۷۸۰-- که اتریش له موږ څخه بیاجوړول غواړي،
نو موږ به ورته د هیټلر هډوکي ورکړو.

کونراد ادېناور.

۷۸۱-- دموږ وخت د هغه درنښت کوي،
هغه چې پوره جرآت لري او وایي، چې له
جنګ ډار لري.

البرت کاموس

۷۸۲-- زه باید سیاست او جنګ ولولم، چې دما
بچیان ازادي ولري شمېرپوهنه او فلسفه ووایي،
پرته له دې ځمککچپوهنه، بیولوژي، کښتۍ
جوړول، هنر، بزګري، چې له دې سره د دوي
بچیان، رنګمالي، موزیک، شاعري، کورونه
جوړول او... ولولي.

جون آدمز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸۳-- که څوک دښمن په غېږ کې ونيسي، له
خوزښت يې باسې.
د نيپال متل

۷۸۴-- بې له پوره کولو ( د جنګي الاتو له
مخې) هېڅ جنګي توان زړور يا قهرمان نه دی.
ستر فريدريش دويم

۷۸۵-- موږ لا تراوسه د ورکيد ډاره ډوله نه يو،
خو داسې نه د، چې موږ پوره نه يو هڅېدلي،
چې يوه شو.
ډګلای آدم

۷۸۶-- يو روغه غوښتونکی هغه دی، چې ځان
دمرګ وېشتلو ته پرېږدي، او وښايي، چې دابل
تېرى کوونکی دی.
لودويګ مارکوس.

۷۸۷-- روغې ته بله لار نه شته، پرته له روغې.
ماهاتما ګاندي

۷۸۸-- د نړی تاريخ د هِو جمعه هم ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه مخه به نیول شوې وی.

برتراند رسل

۷۸۹-- ما او شینلر د نازي لپاره یو کار ، چې

د ګرانات جوړول وو، کړی، خو دما کار

ورکړ او د ده نه.

مستر. برن

۷۹۰ــــکه غواړو دښمنپ یداکړې، اړیین

نه دی، چې جنګ پیل کړې. دا بسیاکوي،

چې یواځې ووایې، چې څه فکر کوې.

مارتین لوتر کینګ

۷۹۱-- و جنګ ته تګ دومره سخت

نه دی لکه بېرته عقل ته.

برتولد برښت

۷۹۲-- د یو بل سره په جنجال کې موخه

باید بریا نه وي، بلکه پرمختګ.

جوزف ژوبېر

۷۹۳-- نظامي هوښیارتیا په خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یو مخامخوالی( تصادد) دی.

ګروښو مارکس

۷۹۴ -- روغه هر څه نه دي، بې له روغې

ویلي براند

۷۹۵-- ... او که تاسو ډېر کلونه په کټ کې

یاست، تاسو به نو چمتو نه وی له څخه

هره ورځ، چې فقط یو ځل ووایی د ویلو

اجازه ولری، چې دموږ غلیمانو ته غږ وکړی:

،، تاسو دموږ ژوند اخستی شی، خو هېڅکله د

موږ ازادي نه!!!،،

ویلیم والاس

۷۹۶-- کوم ملت چې چا زوروللی وي، باید

هغه نېکمرغه کړي یا له منځه یوسي

نیکول ماکیاوېلي

۷۹۷-- په موټی لاس چا سره روغبړ نه شې کېدلی

ایندیرا ګاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازادي

۷۹۸ -- نړۍ د،، ازادۍ،، ویي لپاره ښه پېژند

نه دی پیدا کړی.

ابراهام لینکلن

۷۹۹-- څوک چې د بل د ازادۍ مخه نیسي،

پخپل يې هم حق نه لري.

۸۰۰-- د انسان ازادي پهدې کې نه ده نغښتې،

که کړی شي، څه يې چې زړه غواړي، خو

هغه څه باید ونه کړي، چې نه يې غواړي.

ژان-ژاک روسو

۸۰۱-- څوک چې ازادي د دې لپاره د لاسه

ورکوي، چې په امن کې وي، په پای

کې دواړه له لاسه ورکوي.

بنجمین فرانکلین.

۸۰۲ -- ازادي دا ده، چې بل ته ووایي، چې

څه يې اوربدل زړه نه غواړي.

جورج اورویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۰۳-- ځوک چې وايي، چې دلته ازادي

واکمنه ده، هغه دروغ وايي، ځکه چې

ازادي واک نه لري.

اېريش فريد.

۸۰۴-- ازادي نه شته پرته د يو بل سره

پوهيدلو.

البرت كاموس

۸۰۵-- توان چې دا ويي ،، نه ،، ووايې،

ازادئ ته لومړی پل دی.

نوکولاس کمفورت

۸۰۶--- رېښتيا بل څه نه دي پرته له حقه.

جان کوتفريد سويم

۸۰۷-- زه چې له بند څخه د ازادئ په لور

له دړې راووتم، پوهېدم، چې خپل

تريخوالی د ما کينه بايد شا ته پرېږدم،

يا به ټول ژوند بندي پاتې شم.

نېلسن منډېلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۰۸-- که تهډېر کلونه مرګونی پهکټ کې

پروتوي، چمتو به نه وی چې هر ساعت

له نن څخه تر هغې ورځې پورې بدل کړې،

چې یو ځل ټیک، یواځې یو ځل بیا دلته د

درېدلو اجازه ولرې او دموږ غلیمانو ته غږ

وکړې،، هو تاسو دموږ ژوند اخستلی شۍ،

خو هیڅکله له موږ څخه دموږ خپلواکي.

ویلیم والاس

۸۰۹-- خپلواکي یو کښت یاکر دی، له ترې کار

اخستلو سره لویږي او نه کار ترې اخستلو

سره ورکیږي.

کارل فون وایخسېکر

۸۱۰-- د فکر ازادي څه په کار راځي، چې د

کړو وړو ازادۍ ته لار نه پرانیزي

یوناتان سویفت

۸۱۱-- ازادي لوکسوس دی، چې هر څوک یې

له توانه نه وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتو فون بیسمارک. خ

۸۱۲-- خوښ غلامان د ازادی سختسري

دښمنان دي.

ماریا  فون ابنر-اېشنباخ

۸۱۳-- ازادي یوائې دا نه ده، چې خپلې

زولنې لرې کړي، بلکه یو ژوند وکړي، چې

د نورو ازادۍ ته درنښت ولري او ملاتړ يې

وکړي.

نېلسن منډېلا

۸۱۴-- تر کومه چې ستا پهځانواک رسیږي،

تر هغې پورې ستا ازادي رسیږي

ماریا فون اېنر-اېشنباخ

۸۱۵-- هېڅ څوک ازاد نه دی، چې هغه

پخپل ځان واک ونه لري

ماتیاس کلاودییوس

۸۱۶-- ازادي په لومړۍ لیکه کې د امتیازاتو

نه ده جوړه، بلکه له مسئولیتونو

البرت کانوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۱۷-- انسان ازاد زیږېدلی او هرځای کې

په ځنځیرو تړلی

ژان- ژاک روسو

۸۱۸-- سړی یوه نظریه د بلې سره لرې کولی

شي خو د ازادۍ نه.

لودویګ بوېمې.

۸۱۹-- څوک چې د انسان هیلو او غوښتنو په ازادی

باور لري، نو نه یې مینه لرله او نه کینه،

ماري فون ابشنباخ

۸۲۰-- پیسې، چې څوک لري، ازادۍ ته یوه

اله ده، هغه څوک، چې هغې پسې ښکار

کوي، اله ده و غلامۍ ته.

ژان ژاک روسو

۸۲۱-- ځنې کسان به ازاد وی، چې په

خپله ازادۍ باندې پو هېدلی.

ماریا فون ابېنر ابشنباخ

۸۲۲-- اکادمیکه ازادي داده ، چې زده کړي،

چې څومرهیې زړه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويکتور ويرخوف

۸۲۳-- قدرت جبر دی، ازادي مسئوليت.

ماريا فون ابېنر-اېشنباخ(ښ)

۸۲۴ --غلام نه غواړي ازاد شي،

غواړي په غلامانو پامکونی وي.

ګابريل لاوپ

۸۲۵ -- هېڅ ديکتاتور او هېڅ تېريکونکی

کړی شي، چې د اوږده وخت لپاره يو قوم

د اصلېحې په زور د مشار لاندې وساتي، په

کائېناتو هېڅ شي دومرهتوتنمند اونه سترړی

کېدونکی نه شته ، لکه د ازادئ هيله او غوښتنه.

د دېِ وښتنې په وړاندې هېڅ حکومت او هېڅ ظالنم

د خپل پوز سره مقاومت نه شي کوړلی....

ګ،کار

۸۲۶--تا ته چې څه ګران وي ازاد يې پرېږده.

هغه تاته ببرته پخپله راځي – د تل لپاره.

کونفوڅيوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۲۷-- تاریخ راښايي (رازدکوي)، چې تاریخ
انسان ته څه نه ورزدکوي.

مهاتماګاندي

۸۲۸-- چې زدکړه وکړې، نو هره ورځ څه
ورزیاتوه، او که غواړې هوښیارتیاته
ورسېږي، نو هره ورځ یوڅه ترې لرې کړه.

لوزي یا لوڅو

۸۲۹--موږ پیل کوو هوښیار زده کړو، که موږ
چمتو یو، چې نړۍ د بل لیدلور سره وګورو.

۸۳۰-- چې پوه شوې، چې ته نه پوهېږې، د
هوښیارتیا پیل دی.

۸۳۱-- موږ ټول ناپوه زېږدلي یو، خو سړی
باید ډېر کار وکړي، چې احمق پاتې شي.

بېنجمین

۹۳۲-- حماقتونه بدلیږي، او حماقت پاتې کیږي

ائریېښ کېستنر

۸۳۳-- لټي د تن حماقت دی. حماقت د فکر لټي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوهان گوتفرید سویم.

۸۳۴--که پنځوس مېلیونه کسان یو احمق څه

وwایي، سره له دې حماقت پاتې کیږي

اناتولي فرانس

۸۳۵-- خپل حماقت باندې چې وپوهېږې کېدی

شي دردونکی وي. هېڅکله حماقت نه دی.

اولیور هازنکامو

۸۳۶-- د بل چا په حماقت مه خانده. دا ستا لپاره چانس دی.

وینستون چرچل

۸۳۷-- حماقت هم یوه پیداښتي ورکړه ده

ویلهلم بوش

۸۳۸-- دوه شیان ناپای دي، کائنات او انساني

حماقت، خو په کائناتو یا پوره باوري نه یم.

البرت آینشتاین

۸۳۹ -- د یوه حماقت په مخامخ ، چې اوس

مود وي، هېڅ هوښیارتیا نه شي ورتلی.

تیودور فونتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۴۰--حماقت د ټولو ناروغیو یوه خورا
ځانګړې ناروغي ده، چې ناروغ ورسره
هېڅ وخت نه زوريږي، خو نور ورسره
زوريږي.

پاول-هېنري سپاک

۸۴۱--د حکومتونو حماقت ته په وړه سترګه مه
ګورئ

هلموت شمیټ

۸۴۲ -- که نيسې، چې يو بار به وږل شوی وي،
نو باور په ولره!
که نيسې، چې يو انسان به خپل خوي بدل کړی
وي، نو باور پرې باندې مه لره.

# د خليل جبران څو متلونه

۸۴۳-- د هر ژمې په زړه کې د پسرلې يو زړی
پروت دی او د هرې شپې د زړوکي شاته يو د
خندا ډک سهار

۸۴۴--- مينه د رڼا ويې ( لغات) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۴۵-- که څوکې ته رسېدلی وې، نو زوړی
پسې راِې.

۸۴۶-- نرمي او مهرباني د ناتوانۍ او نا هیلۍ
ویېنه نه ده، خو دا د توانمندۍ او
پرېکندوالي نخښه ده.

۸۴۷-- موږ تل له راتلونکې څخه پوروو،
چې د تېر وخت پورونه پرې باندې
پرې کړو

۸۴۸-- خورا ژور هغه لویږي، چې څوک
خوبونه په سرو زرو یا د سپینو زرو پوښي.

۸۴۹-- په مینه زه غواړم، چې له هغو کمو
کسانو وم، د خوبونو غوښتنو سره، چې هغه
پوره کړم، و هغو ته چې خورا لوي وي،
بې له خوبونو او غوښتنو یاهیلو.

۸۵۰-- لکه څنګه چې زړي ( دانې)، د واورو
برېستن لانې خوبون ګوري، همداسې
د موږ زړونه له پسرلي خوبونه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۵۱-- ستاسې کور ستاسې خورا لوي خپل تن دی.

۸۵۲-- مينه څه په واک کې نه لري او د چا
په واکوالي کې هم نه غواړي.

۸۵۳-- ستاسې ملګري ستاسو د بياليدنې هيلو ته
ځواب دی.

۸۵۴-- خوښي يو اورغورځونی دی، چې د
هغه په کراتر يا ګټو کې واښه نه شنه کيږي.

۸۵۵-- که دا زړه، چې و تا ته ګران دی، نه
وای، نو ته به يو نازک ګرد وی، چې باد
يې ورڅخه وړي.

۹۵۶-- که ته غواړي په رښتيا سترګې
پرانيزې او وګورې، ته به په ټولو څېرو
کې و تا ته ورته څېرې وګورې. او که
غوږونه دې پرانيزې او واورې، نو ته به
په ټولو غږونو کې ستا خپل غږ واورې.

۸۵۷-- مادي نړۍ او هر څه چې ور پورې اړه
لري، يواځې يو خوب دی و ويښېدو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتله، هغه چې مور يې ،،د مرګ ډار،، بولو.

۸۵۸-- رېښتياوالی تل بايد همدا اوس وي،

چې کله کله وويل شي.

۸۵۹-- ستاسې يو دبل سره ځای پرېږدی، د

اسمان سا مو په منځ کې د لوبو ځای ولري.

۸۶۰-- په پيداېښت کې جنجال يواځې يوه ګډوډي

ده، چې په نظم پسې سترګې به لار دي.

۸۶۱--ځنې کسان به ګومان وکړي، چې زه ورته

سترګک وهم، که زه سترګې پټې کړم، چې

مخ يې ونه ګورم

۸۶۲-- سړی يواځې خپل سيوری کتلی شي،

که شا و لمر ته کړي.

۸۶۳--د  لويې وچې سندره د غاړې سره پای

مومي او يا د هغه چا زړونو کې چې هغوي

رانيسي

۸۶۴-- ماته غوږونه راکړه، زه به غږ درکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فکر بدلېدلو لپاره.

یو د دعواوکیل او یوه پېغله نجلۍ په یوه ګاډي کې مخامخ ناست وو، وکیل زړه تنګی شو او د نجلۍ څخه یې وپوښتل، چې راځه د وخت د تېرېدو لپا ره یوه لوبه وکړ. د نجلۍ زړه نه وو خوب ورتللو. بیا یې وویل، چې یو له بل به وپوښتو، که یوه بل ته سم ځواب و نه وایه، نو څه پیسې به ورکوي. نجلۍ ستړې وه او د دې لپاره یې وخت نه لروده.

وکیل ترې څو ځله وپوښتل، د نجلي زړه نه کېده. په اخر کې وکیل ورته وویل، چې که تا ځما پوښتنې ته ځواب ور نه کړ، ماته پنځه اویرو راکړه او که ماستا سوال ته ځواب ونه وایه، نو پنځه سوه اویرو به درکوم. نجلې ورته وویل سمه ده.

وکیل ترې و پوښتل، چې د ځمکې او سپوږمي په منځ کې واټن څومره دي؟ نجلې بکس ته لاس کړ او پنځه اوېرو یې ورکړې. اوس د نجلۍ وار شو، پوښتنه یې وه، چې: هغه څه شی دي، چې په درې پښو غره ته جګیږي او په څلورو بېرته راکښته کیږي. نجلۍ نور سرکښېښود. وکیل چې په شمېروني کې هرڅومره وکتل او هرې لور ته یې تلفونونه وکړل، خواب یې پیدا نه کړ، یو نیم ساعت وروسته یې نجلۍ ته وویل، چې په ځواب یې نه پوهېږم او پنځه سوه اوېرو یې ورکړې. وار بېرته د سړي شو، ویل چې ښه اوس دما وار دی، نجلۍ ورته وویل سمه. وکیل ورته وویل، چې اوس ته ووایه، چې دا شی دی. نجلۍ بکس ته لاس کړ او پنځه اوېرو یې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرِي شینواري کتابونو ته کتنه

د ډاکتر ماخان شینواري پوهنیز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو لیکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپیر لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شینواري نږدې ځلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ریښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ویونو په ځای یا یې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ویونه لیکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې یې فزیک هم په پښتو لیکلی، دا په دې مانا، چې پوهنیز او مسلکي ویونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دئ.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو لیکوالانو د لیکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دئ، لکه په دې نورو لیکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وایي، چې کړنې یې د ژبلار سره سمې او سم اندیزې دي.

که ژبسمون، چې بیا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دئ، هغه ویونه د څېړنې لاندې نیولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

۴-دوه کتابونه ۴ ۱ – پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره به په لنډ وخت کې خوره او

۴ ۲ – د ژبې په چوپړ کې به هم لنډو ورځو کې ستاسو لوستلو ته وړاندې شي.

زما زیاتې لیکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زیات یې د تاند په خپرونه او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

او کتابونه په کتابتون.کوم کې خوریږي، چې هلته یې بیا د کتاب په بڼه لوستلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخام مېږي شينواري ليکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې، چې هغه زياته برخه يې له ketabton.com څخه خواره شوې:

<u>:(Vienna (Austria 1988</u>

<u>لومړی:</u>

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

<u>:(Vienna (Austria 1987</u>

<u>دويم:</u>

لومړی-und Aproximation durch Polynime in Universalen Interpolation Diss . Uni. Wien . Algebren

دويم-*and Aproximation by Polynome in universal Interpolation the University of Vienna/Austria Dissertation at ,Algebras*

لاندې د شميرپوهنې پښتوتېول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
<u>:(Bonn (Germany 2000</u>

دريم: د شميرپوهنې ستر کتاب : د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې ليکنه به يې ځنو ځايونو غزېدلې او ځنې ځايونه ترې لرې شوي دي)
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شميرنه، د ګټې – او کټې د کټې شميرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتياوې پوره کوي
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شمیرپوهني انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شمیرپوهني الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*dictionary German/ Pashto and Pashto/German Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې څانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*equation Translation; An Introduction Differential*
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمیر پوهني فرمولونو ټولګه
*Formulas Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپینې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

*: (Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د برېنکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لیکنې
:(Germany) Bonn

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلي ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - څمککچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزۍ پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې څنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپرېږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوځلوېښتم - فزیک لومړیبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

دربځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

څلورځلوېښتم – د فزیک کوچنی ویونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېښتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته ځلوېشتم – ژبسمون ( که غواړی دویم غزېدلي لیکنه) : له پخوانی لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دي پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیې لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم ( ketabton.com ته پورته شوی) کې يې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- د نړۍ هوښیارتیاوې. همدا کتاب

.

.

.

.

.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرې،، وو. د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: اروابښاد نورالرحمان

د مور نوم: اروابښاده پستو

د نیکه نوم: اروابښاد حسن خان

د نیا نوم: اروابښاده صبره بي بي

دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دۍ ( دا خو هغه رسمي ز ک دۍ. سمه نېټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دۍ)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځي هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ويانا اړوند مودلينګ کې د الماني يا بنه يې اتريشي ژبې او د ديارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وينا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زياتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بريالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنيو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوريت سفارت کې د سفير دندې د شارژد افير( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سياسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پيداپښتې پوهنو څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د رياضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شينواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹ ۹۷ څخه همدا د کتابونو ليکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان ميړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د ميرمن ښاپيرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتريش ويانا ته ورغلی.

ده د ميرمن ښاپيری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي ښتن په اتريش ويانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچيان وبخښل، چې څانګه او اباسين نوميږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسين ملي اقتصاد او ټولنيزه سايکولوژي لوستلې.

ډاکتر شينواري ته د پوهنيزو هلو ځلو له امله ستاينليکونه:

۱ ـ د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ ـ د افغانستان کلتوري ټولنه کولن ميشنيش. جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library